محمدسمیع صادق

۲۰۲۵/۰۸/۲۹

# مینه

## قصه په سلو ټکو کې

مور هېڅکله یو او بل لمس نکړل. د دیدن په شېبو کې به تل وخت درېدی. هغه به ویل: «مینه په لمسونو کې نه په یادونو کې اوسېږي...»

د جدايي په ورځ ئې یوه ډبره په ورغوي کې را کېښېښول. سترګي ئې کښته کړې، کرار ئې راته وويل: «دا مي زړه دئ، مات ئې نه کړې...»

ډبره مي د عمر تر بار لاندي تل وساتل.

څلوېښت کاله وروسته مي په هدېره کي تر خاورو لاندي ولیدل. په جیب کي مي ډبره لا هم پرته وه. پر قبر مي ور کېښېښول. داسي راته وايسېدل لکه خپل زړه چي زما څخه بېرته غواړي.

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ